سلام خان ۲۰۱۲/۰۱/۲۷

# افغانستان او ایټالیا د ستراتیژیکو همکاریو سند لاسلیک کړ



ولسمشر حامدکرزي دوه ورځې مخکې دريیو اورپايي هیوادونو، برتانیا، فرانسی او ایټالیا ته پنځه ورځنی سفر پیل کړی دیی او د دغه سفر په ترڅ کی به له دغو هیوادونو سره د اوږدمهاله همکاریو تړونونه  لاسلیک کړی،حامد کرزي تیر ماښام د ایټالیا له ولسمشر جیورجیون پولیتانو سره په خپله لیدنه کی د افغانستان د اوسني وضعیت په اړه خبری وکړی او ویی ویل: زموږ لپاره د خوښی ځای دی، چی له ایټالیا سره د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو سند لاسلیکوو،ولسمشر کرزي د ایټالیا له مرستو مننه وکړه او د هیواد د امنیت په ټینګښت کی یی د ایټالیوي سرتیرو قرباني نه هیریدونکی وبلله،هغه زیاته کړه: ((افغانستان یو قوي او د نظام خاوند هیواد دی او زه بشپړ یقین لرم، چی افغانستان به هیڅ کله بیرته شا ته ولاړ نه شي))،
حامد کرزي هغه راپورونه رد کړل، چی ګواکی افغانستان به له ۲۰۱٤ کاله وروسته له کورني ناورین سره مخ شی.
د ایټالیا ولسمشر هم وویل، چی د دوی هیواد به هم له هغو مرستو وروسته، چی له افغانستان سره یی کړی او کومی قربانۍ یی چی ورکړی دي، پری نږدي، چی دغه هیواد یو ځل بیا له کورنیو ستونزو سره مخ شي،وروسته له هغه.
ولسمشر حامدکرزي او د ایټالیا صدراعظم ماریومونټي پرون دسلواغی دمیاشتی په بشپړمه نیټه په روم کی د دواړو هیوادونو ترمینځ د اوږدمهالو ستراتیژیکو همکاریو سند لاسلیک کړ. د دی سند له مخی د افغانستان او ایټالیا ترمینځ همکاري نوره هم پراخیږي،د ایټالیا صدراعظم د دی سند له لاسلیکولو وروسته وویل، ددی کتنی اصلي پیغام دا دی چی په ۲۰۱۴ کال کی د ایټالوي سرتیرو له وتلو وروسته به له افغانستان سره د ایټالیا مرستی کمی نشي او دا هیواد به افغانستان یوازی پری نه ږدي. مونټي که څه هم یادونه وکړه چی په پوځي او امنیتي برخو کی به د ایټالیا مرستی کمی شي خو ډاډ یی ورکړ چی دا مرستی به په ملکي او اقتصادي برخو کی زیاتی شي،د ایټالیا صدراعظم وویل، د افغانستان اقتصادي بنسټ باید ورغول شي او ځکه ده یادونه وکړه چی هیواد یی غواړي له افغانستان سره په اقتصادي برخو کی همکاري پراخه کړي او په دی لړ کی به په هرات ولایت کی په پرمختیایي پروژو کی خپله ونډه پراخه کړي،د ایټالیا صدراعظم همداراز وویل چی روم له وسله والومخالفینو سره د افغان حکومت د خبرواترو ملاتړ کوي خو ده ټینګار وکړ چی وسله وال طالبان هم باید له تشدد څخه لاس واخلي او د هیواد یووالي ته درناوی وکړي،په دی کتنه کی ولسمشر کرزي ایټالوي سوداګر د هیواد د کانونو په سکتور کی پانګونی ته وهڅول او له هغو څخه یی غوښتنه وکړه چی کولای شي په نورو برخو کی هم په افغانستان کی پانګونه وکړي.
د۱۳۹۰کال د سلواغی ۶مه - د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس حامد کرزي  له غرمی مخکی د ایټالیا د نماینده ګانو د مجلس له رئیس ښاغلي ګاین فرانکو فیني سره د ایټالیا په پارلمان کی وکتل،د نماینده ګانو د مجلس رئیس د هیواد جمهور رئیس او ملګري پلاوي ته هر کلی ووایه او خوښي یی څرګنده کړه چی ایټالیا او افغانستان د ستراتیژیکو اړیکو سند لاسلیک کوي،ده زیاته کړه چی ددغه ستراتیژیک سند له مخی به ایټالیا وتوانیږي تر څو له ۲۰۱۴ کال وروسته د خپل دوست هیواد افغانستان سره خپل رول او مرستو ته ادامه ورکړي،ښاغلي فیني وویل: د ایټالیا د نماینده ګانو مجلس باور لري چی له افغانستان سره د ایټالیا د ستراتیژیکو اړیکو د سند لاسلیک کول د دواړو دوستو هیوادونو په ګټه دي،همدا راز د ایټالیا د نماینده ګانو د مجلس رئیس وویل چی افغانستان ته یی په خپل وروستي سفر کی ولیدل چی په دی هیواد کی ډیر مثبت بدلونونه راغلي دي. ده ټینګار وکړ چی د ایټالیا او افغانستان د پارلمانونو تر منځ اړیکی او همکارۍ زیاتی  او پراخه شي،د هیواد جمهور رئیس د ایټالیا او افغانستان تر منځ اړیکی ژوری او دوستانه وبللی، زیاته یی کړه چی همدا لامل ۇ تر څو دوو افغان پاچاهانو په روم کی استوګنه غوره کړه،دغه راز حامد کرزي دافغانستان د خلکو او  پارلمان په استازیتوب د افغانستان په عدلي او قضایي سیستم او دغه راز  د هرات د هوایي ډګر د پروژی د پراختیا او په دغه ولایت کی د زیربنایي جوړښتونو په برخه کی د ایټالیا له مرستو څخه مننه وکړه،همدا راز د هیواد جمهور رئیس وویل چی د بُن په دوهم کنفرانس کی د ایټالیا ګډون او له کنفرانس څخه ددغه هیواد ملاتړ افغانانو ته دا ثابته کړه چی ایټالیا به له ۲۰۱۴ کال وروسته هم خپلو مرستو ته ادامه ورکوي،جمهور رئیس په دی کتنه کی د افغانستان د روانو حالاتو، د سولی  او د مسؤولیتونو د لیږد د بهیر په اړه معلومات ورکړل ویی ویل چی افغانستان آماده دی چی تر ۲۰۱۴ کال پوری ټول مسؤولیتونه له نړیوالو ځواکونو افغان ځواکونو ته ولیږدول شي.

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ